





نبوي مرغلري

رسول الله (ص) فرمايلي دي:

ژباړه: هغه سړی به جنت ته داخل نه سي چي همسايه ګان يې د زهرېدو څخه محفوظ نه وي.

«رواه المسلم»

غوره ويناوي

ابوبکر صديق "رض":

رښتينی اخلاص دادی چي د خپلو عملونو بدله او عوض و نه غواړې!

د امتياز څښتن:

د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

په اوونۍ کي دوه واره چاپېږي

د تأسيس کال: ۱۳۰۰ لمريز، چهارشنبه ۲/صفر المظفر/ ۱۴۴۶ هـ ق، ۱۷/زمری/ ۱۴۰۳ ل کال - ګڼه (۲۵)

Wednesday-7-August-2024 Issue: 25

په افغانستان کي د موټرونو واردولو په برخه کي يو چينايي شرکت چمتو دی پانګونه وکړي



د چين د «جين شين» سوداګريز شرکت استازي ينګ، د صنعت او سوداګرۍ وزارت له معين مولوي احمدالله زاهد سره په کتنه يې، په افغانستان کي د موټرونو واردولو په برخه کي پر پانګوني چمتووالی ښودلی دئ.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت په خپره سوې خبرپاڼه کي راغلي چي په دې کتنه کي د «جين شين» سوداګريز شرکت استازي ويلي، ياد شرکت چمتو دئ، چي د شاوخوا ۲۰ ميليونه ډالرو په ارزښت، په افغانستان کي د باروړونکو موټرونو او اسکواټرونو د واردولو په برخه کي پانګونه وکړي او د هغه په وينا، دغه شرکت غواړي د يادو وسايطو ننداړتون او د ترميم ورکشاپ هم جوړ کړي چي لسونو کسانو ته به په کښبي کاري زمينه هم برابره سي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت معين هم د «ينګ» د خبرو تر اورېدلو وروسته، په افغانستان کي په بېلابېلو برخو کي د پانګوني پر فرصتونو خبري کړي او په ياده برخه کي يې د هر اړخيزو همکاريو ژمنه کړې ده او اوسمهال په افغانستان کي کورني او بهرني پانګه وال، د پانګوني په برخه کي يو شان امتيازات لري.

غربي رسنۍ ولي د فلسطين پر غميزه پټه خوله او زموږ په کورنيو چارو کي مداخله کوي؟

حسان "مجاهد"

غربيانو د دې له پاره چي پر نورو باندي خپل قانون او فرهنګ عملي کړي، نړۍوالو ته ځانونه د بشريت خادمان وښيي، خپل جرمونه پټ او د جواز جامه ور واغوندي، اسلام د سخت دريځۍ دين معرفي کړي، مسلمانان دهشتګر ثابت کړي، له اسلامي فکر او منهج څخه خلک کرکجن او متنفر کړي؛ ډېر کار له رسنيو اخلي، پراخ لګښتونه ورباندي کوي او داسي خلک ورته روزي چي له اسلام سره په دښمنۍ کي لوړ مقام لري او د نورو د بې لاري کولو اوږده او پخه تجربه لري.

نن – سبا د نړۍ په يوه کوچنۍ اسلامي جغرافيه (فلسطين) کي هغه څه روان دي، چي هغه ته په نسبت د افغانستان اوسنی وضعيت سل په سلو کي د امن، پرمختګ، هوسايني او اقتصادي وضعيت له پلوه خورا د ستايلو وړ دی، خو پردې سربېره غربي رسنۍ د فلسطين پر غميزه پټه خوله دي او د افغانستان کورني موضوعات يې تر بحث لاندي نيولي دي، دوی غواړي په خپل ټول توان سره د امارت څخه په تبليغاتي وسله د خپلي ماتي کسات واخلي او د دوی اسلامي نظام، پاليسي، قوانين او دريځ نړۍوالو ته ناسم معرفي کړي.

په هرو درو مياشتو کي د ملګرو ملتونو سازمان له لوري په يو راپور کي (چي له سوچ درواغو او اتهاماتو ډک وي) د افغانانو د بشري وضعيت نقض، جبري نيوني، خپلسري وژني او د ملکي تلفاتو شمېر ښوول کېږي، حال دا چي په غزه کي تر دې دمه د صهيونيستي رژيم له خوا د شهيدانو شمېر (۳۹۴۴۵) ته او د زخميانو شمېر (۹۱۰۷۳) ته لوړېږي، تراوسه (۲۰۶) لرغوني آثار، (۱۹۷) دولتي ځايونه، (۸۲۱) مسجدونه، (۴۳۰۰۰۰) او څلور سوه دېرش زره انفرادي سرپناوي له منځه وړل سوي او (۳۴۱۰) شمېرې عامه وژني ثبت سوي، خو غربي رسنۍ يې په اړه ګونګي پاته دي.

په افغانستان کي د بې کارۍ او اقتصادي ستونزو خبره هره ورځ کېږي، حال دا چي په افغانستان کي د طالبانو تر حکومت را وروسته له لوږي د مرګ پېښه نه ده ثبت سوې او په غزه کي تر دې دمه ۳۷ کسان له لوږي شهيدان سوي دي.

د طالبانو له حکومت سره د حساسيت له کبله بهرنيو هيوادونو ته د کډوالو د ډېرښت خبره کېږي، حال دا چي په غزه کي تر دې دمه لس زره کسان نادرکه او دوه ميليونه کډوال سوي دي.

دلته له بشري حقوقو د مېرمنو د محروميت او تاوتريخوالي خبره سهار او ماښام روانه وي او په غزه کي تر دې دمه (۱۰۷۹۸) مېرمني په شهادت رسېدلي دي.

دلته د بيان د نه آزادۍ، د ټلوېزيونونو او راډيوګانو د تړلو او پر خبريالانو د محدوديت خبره ډېره تکرارېږي، حال دا چي په غزه کي تر دې دمه (۱۶۵) خبريالان شهيدان سوي دي.

دلته له عصري زده کړو د نجونو پاته کېدل او پرمخ يې د مکتبونو تړل، د خبرونو سرټکي ګرځېدلي او په غزه کي تر دې دمه (۴۴۵) مدرسې او پوهنتونونه بمبار سوي دي.

دلته له خدماتو او لوړو معاشاتو څخه د ډاکټرانو د محروميت خبره کېږي او په غزه کي تراوسه (۵۰۰) طبي کارمندان شهيدان سوي دي.

دلته شپه او ورځ د ماشومانو د خوارځواکۍ موضوع توده وي او په غزه کي تراوسه (۱۶۱۷۲) ماشومان شهيدان سوي دي.

دلته په افغانستان کي د غربي رسنيو له خوا د ډول – ډول ناروغيو رامنځته کېدل، له سالم چاپېريال او صحي خوړو څخه د افغانانو ليري پاته کېدل او وخت پر وخت درملني ته د نه رسېدو تبصرې کېږي او په غزه کي تراوسه (۲۶۲) روغتيايي مرکزونه او شفاخانې له خدمتونو لوېدلي او (۱۳۱) امبولانسونه بمبار سوي دي.

۴مخ

دروغتيايي خدمتونو په برخه کي ليري پرتې سيمي لومړيتوب لري



د عامي روغتيا وزارت سرپرست، د ليرو پرتو سيمو اوسېدونکو ته د روغتيايي خدمتونو وړاندي کول، د دې وزارت لومړيتوب وباله.

د عامي روغتيا وزارت سرپرست مولوي نورجلال جلالي، د افغانستان له پاره د «يو. اين. ايف. پي. اې» سازمان له مشر کوابينا اسانتي سره په کتنه کي د هيواد د ليرو پرتو سيمو اوسېدونکو ته د روغتيايي خدمتونو وړاندي کول، د دې وزارت لومړيتوب بللی دئ.

د عامي روغتيا وزارت په خپره سوې خبرپاڼه کي راغلي چي په دې کتنه کي په سپينو سيمو کي دروغتيايي ۴مخ

دروغتيايي خدمتونو په برخه کي ليري پرتې سيمي لومړيتوب لري



په کندهار کي نيول سوي لرغوني آثار د اطلاعات او فرهنګ رياست اړوند، ملي ميوزيم ته وسپارل سول.

تېره مياشت امنيتي ځواکونو د کندهار ولايت په سپين بولدک ولسوالۍ کي، لس کيلوګرامه قلمي نسخې چي په غالب ګمان، د کوشانيانو په دورې پورې اړه لري او ۵۲ کيلوګرامه ۴مخ

نيول سوي آثار کندهار ملي ميوزيم ته وسپارل سول



په کندهار کي نيول سوي لرغوني آثار د اطلاعات او فرهنګ رياست اړوند، ملي ميوزيم ته وسپارل سول.

تېره مياشت امنيتي ځواکونو د کندهار ولايت په سپين بولدک ولسوالۍ کي، لس کيلوګرامه قلمي نسخې چي په ۴مخ

د سلام مخابراتي شبکې نوي سايټونه په ۱۸ ولسواليو کي فعالېږي



د کندهار د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ رئيس ملا نورالله نوري د دوشنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، اوس مهال د يادو سايټونو ساختماني چاري رواني دي او ژر به يې کارونه بشپړ سي.

د هغه په خبره، د دغو سايټونو په فعاليت سره به د کندهار ولايت ۱۸ ولسوالۍ په بشپړ ډول د سلام مخابراتي شبکې تر پوښښ لاندي راسي.

هغه زياته کړه، د مخابراتو رياست د اترا آمريت له مسئولينو سره په ګډه هره ورځ د کندهار ښار په ۴مخ

هره ورځ په لسونو موټرونه کثافات د ښار له ناحيو ايستل کېږي



د کندهار ښار د ښکلا او د کثافاتو څخه د پاکولو په هدف، عمومي حشر پيل سوی دئ.

د کندهار ښاروالۍ وياند سيف الله عاصم ۴مخ

په عمومي زندان کي د پاکو اوبو مشکل په بشپړ ډول حل سو



د کندهار په عمومي زندان کي د اوبو فلټر کولو او يخولو اته ماشينونه نصب سول.

د دې زندان مطبوعاتي مسئول صاحبزاده باختر خبري آژانس ته ويلي، د يادو ماشينونو په نصب سره، په زندان کي د پاکو اوبو مشکل په بشپړ ډول حل ۴مخ

له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سره علمي تفاهم ليک لاسليک سو

د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سره په دوو پوهنځيو کي علمي تفاهم ليک لاسليک کړ.

د اطلاعات او فرهنګ رياست اړوند د ځوانانو چارو آمر حافظ حمدالله سعيد باختر خبري آژانس ته د دوشنبې په ورځ ويلي، د ځوانانو چارو آمريت له ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې سره په حقوقو، سياسي علومو او نړۍوالو اړيکو کي په ۷۳ سلنه تخفيف سره يو تفاهم ليک لاسليک کړ، چي علاقمند ځوانان د کانکور په آزموينې کي چي د سنبلې مياشتي پر دوهمه نېټه اخيستل کېږي، تر کامياب کېدو وروسته ۴مخ

د طلوع افغان خبري

ټاپي د افغانستان د پرمختګ زېرى راکوي

له کله چې اسلامي امارت په افغانستان کې واک ته رسېدلی دئ، د افغانستان د اقتصادي رشد هڅه یې را پیل کړې ده، سیاست یې اقتصاد محوره عیار کړی دئ، په سیمه کې یې له هیوادونو سره د لویو پروژو د تطبیق او ګډ کار هوډ کړی دئ، چې دا هر څه د نوي او پرمختللي افغانستان له پاره خورا مفید تمامېدای سي.

د افغانستان اسلامي امارت مسئولینو د واکمنۍ له پیله د ټاپي پروژې د پیل په برخه کې د هلو ځلو خبر ورکړی دئ، ټول تمرکز یې پر دې دئ، چې د ټاپي پروژې د تطبیق له پاره شرایط برابر کړي.

تازه د افغانستان د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخند د ترکمنستان د بهرنیو چارو له وزیر سره د ویډیویي کنفرانس له لارې د افغانستان په خاوره کې د ټاپي پروژې د عملي کېدو لارو – چارو تورغونډۍ بندر کې د رېل پټلۍ سټېشن د پراختیا، ترانزیټ او ټرانسپورټ کې د اسانتیاوو رامنځته کولو په تړاو خبري کړي دي.

د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیر ویلي، هیواد یې چمتو دی چې له افغانستان سره د خپلو سیاسي او اقتصادي اړیکو پراخولو په موخه، په نږدې راتلونکي کې د افغانستان په خاوره کې د ټاپي پروژې کارونه پیل کړي.

د هغه په قول، هیواد یې په پلان کې لري، څو په افغانستان کې د برېښنا او رېل پټلۍ شبکې برخه کې پانګونه وکړي.

ورته مهال ملا عبدالغني برادر اخند ویلي، اسلامي امارت اقتصاد محوره بهرنی سیاست تعقیبوي او اساسي تمرکز یې پر سیمه ییز اتصال دی، چې دې موخې ته د رسېدو له پاره د سیمې او په ځانګړې توګه، ترکمنستان همکارۍ ته اړتیا لري.

په دې لیدنه کې د ترکمنستان هیواد د بهرنیو چارو وزیر ملا عبدالغني برادر اخند ته له ترکمنستان څخه د لیدني بلنه ورکړې، څو په مناسب وخت کې یاد هیواد ته سفر وکړي.

ټاپي د افغانستان له پاره خاص ګټه ده، ځکه هیڅ ډول مصرف به وربا ندې نه راځي، بلکې ګټه به یې د افغانستان له پاره دوامداره وي، خلک به پر کار سي، افغانستان ته به له دې درکه عاید راځي او د ګاز څخه به هم برخمن کېږي.

د ټاپي تر څنګ، د اسلامي امارت مسئولین نورو مهمو پروژو ته هم ډېر زیات متوجه دئ، لکه: د کاسازر، مس عینک کان چې اوس یې عملا چاري پیل سوي دي، د قوش تېپې کانال او داسي نور. اداره

په دنیا کې عالم قدرمن وي او که پاچا؟

ابولبابة

مشهور امام ابو زکریا یحیی ابن زیاد الفراء د وخت پاچا خلیفة العباسي «المامون» د خپلو زامنو له پاره د نحو د استاد په حیث مقرر کړ، امام فراء د پاچا زامنو ته له تعلیم سره –سره تربیه هم ورزده کړې وه. یو وخت امام فراء د یو حاجت له پاره د خپل ځای څخه ولاړ سو، د پاچا دوه زامن د استاد څپلکو ته یو تر بل ور وړاندې سول، تر څو استاد ته څپلکې برابرې کړي، خو دغه مسئله یې په یو توافق سره حل کړه، هغه دا چې یوه څپلکه به یو ورته برابروي، بله څپلکه به بل ورته برابروي.

په دغه جریان مامون پاچا خبر سو، امام فراء یې خپل دربار ته راوبلی، کله چې امام فراء راغلی. پاچا پوښتنه ځني وکړه: چې په دنیا کې څوک عزتمن او قدرمن وي؟

امام فراء ورته وویل: زه خو تر امیر المؤمنین بل څوک قدرمن نه وینم.

پاچا ورته وویل: هغه څوک په دنیا کې قدرمن دئ چې د پاچا دوه زامن یې د څپلکو په برابرولو کې یو تر بل سره مخته کېږي او هر یو د ځان له پاره دا کار د افتخار او سعادت نښه بولي، کومه تمه او امتیاز هم نه په کښې لیدل کېږي. د دې کار له پاره یوازې هڅېدنه د استاذ مرتبه او لیاقت وي.

امام فراء ورته وویل: ما اراده وکړه چې دوی له دغه کار څخه بند کړم، ځکه دا کار له تکلف څخه خالي نه دی، خو په دې ښېره چې څوک مې له نېکۍ بند کړی نه وي یا مې د یوې مرتبې له ترلاسه کولو څخه بند کړي نه وي، څه مې ورته و نه ویل. ما ویل کېدای سي دا د دوی له پاره د نېکۍ او مرتبې ترلاسه کولو لامل سي.

په دې اړه یوه کیسه هم ذهن ته راغله: عبد الله ابن عباس د حسن او حسین «رضي الله تعالی عنهما» د آسا نور کابونه نیولي وو، کله چې دوی آسانو ته ختل، یو چا ورته وویل: داسي کار ولي کوې؟! ته خو تر حسن او حسین په عمر کې مشر ئې، ته ولي د هغوی رکاب ورته نیسې؟!

عبد الله ابن عباس ورته وویل: «ورک سه! د قدر خاوندان قدرمنو ته معلوم وي.»

مامون امام فراء ته وویل: ښه دي کړي دي چې دوی دي له دې کار څخه نه دي بند کړي، په دې کار سره د دوی رتبه نوره هم لوړه سوې ده، د دوی په قدر کې کوم کمی نه دی راغلی، ما له وړاندي په خپلو زامنو کې د دغه سعادت نښې لیدلي وې او زیاته یې کړه: په درو کارونو سره د یو چا قدر نه کمېږي، که څه هم هغه ډېر لوی سړی وي:

۱ – پاچا ته عاجزي کول.

۲ – پلار ته عاجزي کول.

۳ – استاد ته عاجزي کول.

مامون پاچا په انعام کې خپلو زامنو ته د ښه آدب په بدله کې شل زره دیناره ورکړل او امام فراء ته یې د ښې تربیې په بدله کې لس زره دینارونه ورکړل.

تاریخ بغداد. الخطیب البغدادي

۲ – یحیی ابن اکثم وایي: ماته هارون رشید وویل: څوک د لوړې مرتبې څښتن دئ؟

ما ورته وویل: امیر المؤمنین د لوړې مرتبې څښتن دئ.

ده راته وویل: بل څوک نه درته معلومېږي چې تر امیرالمؤمنین هم د ستري رتبې څښتن وي؟

ما ورته وویل: نه! بل څوک نه راته معلومېږي.

هارون رشید راته وویل: هغه څوک تر ما امیر المؤمنین بهتر دئ چې په مجلس کې ناست وي او وایي: حدثنا فلان قال حدثنا فلان قال قال رسول الله... یعني د حدیث د سلسلې په بیانولو بوخت وي.

امام یحیی ورته وویل: دا کس به تر تا ولي بهتر وي، ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره زوی (سید) ئې. د مسلمانانو سرپرست او خادم ئې؟!

هارون رشید ورته وویل: مونږ او زمونږ نومونه به مړه وي، خو د عالم نوم به تر قیامته ژوندی وي، ځکه د عالم نوم د الله او له رسول الله سره یادېږي، د الله او د رسول الله نومونه به تر قیامته پوري ویل کېږي او ژوندي به وي، د عالم نوم به هم ور سره ژوندی وي.

آداب الاملاء والاستملاء. للحافظ السمعاني

پښتو څنګه لیکدود ته اړتیا لري؟

احمد ولي "اڅکزی"

دمګړی د پښتو شته ټول لیکدودونه نیمګړي او له ضد و نقیض پدیدو څخه داسي ډک دي چې د ابتدائي ښوونځي له زده کوونکي څخه نیولې، د پوهنتون تر استاد پوري اکثریت پښتانه آن په دقیقه توګه پر سم ځای او سمه توګه د الفبا له سم استعمال سره لا نابلد دي. د دې یو لوی لامل د یو بشپړ، واحد او معیاري لیکدود نستوالی دئ.

که یو وخت د پښتو ژبې د لیکدود د معیاري کولو او یا د موجودو بېلو لیکدودونو ترمنځ، د وحدت رامنځته کولو په مقصد جرګه یا جرګې جوړېږي، نو فیصلې یې نه ښایي چې د مخکنیو فیصلو په شان لنډمهاله، نیمګړي، غیر علمي او غیر مدللي وي. بلکې د راتلونکو فیصلو اساس باید چې د ژبپوهني د عصري ساینسي اصولو سره په مطابقت کې، د بشپړ سوو تحقیقاتو پر پایلو، په کمپیوټر کې د طبعي ژبو د پروسس کولو، له عصري اړتیاوو او غوښتنو سره په همږغۍ کې او د ټولو پښتو لهجو د راغونډو سوو پانګو او د ډیجیټل سوي لویي معلوماتي زېرمي یا ډېټا د مسلکي آرزونو او تحلیل کېدنو د پایلو پر اساس وي.

راتلونکي پښتو معیاري لیکدود باید داسي وي چې د محدودو کړیو پر غیر سالمو افکارو ولاړ نه وي او نه هم د یو واحد پیر او یا مرشد د غیر اصولي او غیر علمي حساسیتي او تبعیضي افکارو ثمره وي. د نوي معیاري لیکدود د جوړولو دنده نه ښایي چې د یوې واحدي ادارې، یا یوې ولسوالۍ یا یو ولایت د مسلکي یا غیر مسلکي کسانو تر انحصار لاندي وي.

نوی پښتو معیاري او واحد لیکدود باید داسي وي چې د پښتنو مطلق اکثریت ویونکي او ټولي لهجې په دغه لیکدود کې خپل ځان او خپله مورنۍ ژبه بیرته وپېژندلای سي او تر شا یې ودرېدلای سي. دا هغه وخت زیات ممکن دی چې د یوې لهجې یا سیمي له خوا د قربانۍ ورکولو پر وخت، د قربانۍ مقدار پر مدلل او عادل تناسب بناء وي.

دغه نوی لیکدود باید د کورنیو او باندنیو زده کوونکو له پاره د پښتو ژبې زده کړه، لیک او لوست اسانه کړي او د خپل وخت د تخنیکي او نورو اړتیاوو سره په همږغۍ او مطابقت کې پښتو ژبه داسي مجهزه کړي چې له نورو ژبو سره د سیالۍ وړ وګرځي.

تر کوم وخت پوري چې مطلوب واحد لیکدود رامنځته کېږي، ښه به وي چې هر څوک له شته لیکدودونو څخه حد اقل پر یوه باندي اتکا وکړي او په دغو لیکدودونو کې د شته ټولو تناقضاتو باوجود، هغه وکاروي. د مثال په توګه: دا هغه لیکدود کېدلای سي چې په کښې په ټول هیواد کې د نصاب کتابونه تدریس کېږي.

که چیري له موجوده نصاب سره کوم مشکل وي، نو بیا دي یې په عمل کې بدیل وړاندي سي او یا دي د اصلاح له پاره تر زباني جمع خرچ آخوا، داسي عملي اقدامات وکړي چې تشه رامنځته نه سي. ښه پیل دا کېدلای سي چې په دې بحث کې د خپلي لهجې یا سیمي د وکالت پر ځای، د ټولو پښتنو او لیکل کېدونکي واحدي پښتو د ښېګڼي او ښه راتلونکي له پاره وکالت کول غوره وبولي. د دې تر څنګ باید چې ښه نیت، پراخه سینه، علمي استدلال او همدا شان عملي کار پر دغه موضوع د مجلس اساسي اجزا وي.

په صحابه وو کې مشهور مفسرین

ژباړه: نعمت الله شاکر

څلور راشده خلفاء (ابوبکر صدیق، عمر فاروق، عثمان ذي النورین او حضرت علي)، عبدالله بن مسعود، عبدالله بن عباس، ابي بن کعب، زید بن ثابت، ابو موسی الاشعري او عبد الله بن الزبیر رضي الله عنهم.

په مکه مکرمه کې د قرآنکریم د تفسیر اړوند، د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما مشهور شاګردان:

سعید بن جبیر، مجاهد بن جبر، د عبدالله بن عباس آزاد کړل سوي مریي عکرمة، طاوس بن کیسان الیماني او عطاء بن ابي رباح رحمهم الله

په مدینه منوره کې د قرآنکریم د تفسیر اړوند، د ابي بن کعب رضي الله عنه مشهور شاګردان:

زید بن اسلم، ابو العالیة او محمد بن کعب القرظي رحمهم الله

په عراق کې د قرآنکریم د تفسیر اړوند، د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه شاګردان:

علقمة بن قیس، مسروق، الاسود بن یزید، عامر الشعبي، الحسن البصري او قتادة بن دعامة السدوسي رحمهم الله

تر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه وروسته صحابه وو رضي الله عنهم د قرآنکریم تفسیر کړی دئ، تر هغو وروسته تابعینو رحمهم الله قرآنکریم تفسیر کړی دئ.

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د احادیثو هغه امامان او محدثین، چې د قرآنکریم د تفسیر له پاره یې هم بابونه جمع کړي وو، خو متاسفانه مونږ ته د دوی د تفسیر اړوند لیکلې څه نه دي را پاته:

۱ – یزید بن هارون السلمي المتوفی سنة ۱۱۷ هجري قمري.

۲ – شعبة بن الحجاج المتوفی سنة ۱۶۰ هجري قمري.

۳ – وکیع بن الجراح المتوفی سنة ۱۹۷ هجري قمري.

۴ – سفیان بن عیینة المتوفی سنة ۱۹۸ هجري قمري.

۵ – عبد الرزاق بن همام المتوفی سنة ۲۱۱ هجري قمري.

یوازې د عبد الرزاق بن همام رحمه الله لیکلی څه تفسیر سته

مباحث في علوم القران

د شیطان لښکر

د خوارجو نوې څېره (داعش)

خوښونه: شهید شیخ رحیم الله "حقاني"

(۶۲) برخه

د داعش د نیوکي علمي څېړنه

داعشیان پر اسلامي امارت او نورو جهادي ډلو باندي رنګارنګ نیوکي کوي، له هغو څخه یوه داده چي امارت په یو وخت کي له ټولي نړۍ سره جهاد ولي نه اعلانوي؟ له کفري هیوادونو او د هغوی له غلامانو سره جنګ ولي نه کوي؟ د اوربند وړاندیزونه ولي بیا – بیا کوي او داسي ولي ورته وایي چي موږ به ستاسو پر خلاف نه جنګیږو؟ کفري هیوادونه او د هغوی غلام او د هغوی ملګرو ته ولي خپل نمایندګه لیږي؟ یو مشهور تنقید پر ملا محمد عمر مجاهد باندي کوي، چي پر وخت یې د وفات اعلان و نه سو او د خلافت پر ځای یې امارت اعلان کړ؟ چي دې ته ورته نوري نیوکي دي، چي د الله تعالی په توفیق سره به په راتلونکي بحث کي له منځه یووړل سي.

څو تنقیدي خبري: وروسته تر دې چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت وکړ، کافران پر درو ډلو ووېشل سول: لومړۍ ډله جنګ کوونکي کافران وو. دوهمه ډله هغه کافران وو، چي تړون ور سره سوی و. دریمه ډله منافقین وو.

له لومړۍ ډلي سره خو جنګ و، له دریمي ډلي سره جنګ نه و، بلکي له څو ځانګړو حکمونو پرته، نور په هر څه کي د مسلمانانو په شان سلوک ور سره کېدی. د دریمي ډلي یعني منافقانو سره ځانګړی سلوک کېدی، ځکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم دوی د مسلمانانو له ډلي څخه ایستلي نه وو.

امام بخاري په خپل سند سره له عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت کوي، چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

ژباړه: مشرکین پر دوو ډلو وو، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په وخت کي یو د اهل حرب مشرکین وو، چي دوی به له مسلمانانو سره جنګ کاوه او مسلمانانو به له دوی سره کاوه.

بل د اهل عهد مشرکین وو، چي نه له دوی سره مسلمانانو قتال کاوه او نه دوی له مسلمانانو سره قتال کاوه.

(بخاري جـ ۲ صـ ۲۰۵)

که نبوي سیرت وکتل سي، نو معلومه به سي چي تر هجرت وروسته نبي کریم صلی الله علیه وسلم له ځینو کافرانو سره د اوربند سوله کړې وه او کومو کافرانو چي د مسلمانانو پر خلاف د جنګ اعلان کړی و، له هغوی سره یې جنګ کاوه.

محمد بن کعب القرظي فرمایي: دوهمه مهمه خبره دا ده چي که د ځینو پوځونو پر خلاف، جهاد فرض وي او طالبان یې نه کوي، نو دا د نیوکي سبب ځکه نه ګرځي، چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په یووار له ټولو کافرانو سره د جنګ اعلان نه و کړی، بلکي له ځینو سره یې سوله او معاهده هم کړې وه.

د لغت په کتابونو کي د سولي له پاره مختلف الفاظ راوړل کیږي، لکه: معاهده، مصالحه، موادعه، مهادله، مسالمه، مواضعه، مهاوده، صلحه او استئمان.

خو په دې ټولو کي مهادنه، موادعه، معاهده، مسالمه، استئمان او صلح، له یو او بل سره مترادف الفاظ دي.

(شرح حدود بن عرفه جـ ۱ صـ ۲۲۶)

د پورته مترادفو الفاظو تعریف احناف داسي کوي:

له مشرکانو او کافرانو سره تر یو ټاکلي وخت پوري اوربند کول، یا له کفاوو سره تر ټاکلي مودې پوري په مال یا بې ماله سول کول.

(السیر الکبیر جـ ۵ صـ ۱۷۸۰. تحفة الفقهاء للسمرقندي: ۵۰۷/۳)

حنابله یې داسي تعریف کوي: تر یوې مودې پوري پر جنګ نه کولو اتفاق کول.

(الانصاف للمرداوي جـ ۴ صـ ۲۱۱. کشاف القناع للبهوتي: ۱۰۳/۳)

د امام مالک په مذهب کي یې داسي تعریف سوی دئ: له کافر سره د مسلمان هغه تړون دئ چي په پایله کي یې اور بند وسي او کافر د اسلام ماتحت نه وي. (الشرح الکبیر الدردیر جـ ۲ صـ ۲۰۶)

شوافع حضرات یې داسي تعریف کوي: له کافرانو سره هغه تړون چي تر یوې ټاکلي مودې پوري اور بند په کښې سوی وي، برابره ده، که په بدل کي یې مال وي او که نه وي.

(فتح الباري جـ ۶ صـ ۲۵۹. مغني المحتاج ۲۴۰/۴) پای

شیخ عبدالحکیم "سیالکوټی"

څېړنه: عبدالنافع "حمیدي"
دوهمه او وروستۍ برخه

شیخ عبدالحکیم د شیخ کمال الدین کشمیري سره په درسونو باندي اخته سو، تر ډېره پوري له هغه سره پاته سو، کله چي له هغه سره په علم کولو کي فارغ سو، نو د مسائلو په یاداښت، د حافظې په قوي کولو او په ډېر تدریس او نورو ته په علمي ګټه رسولو کي د ډېر تشهیر خاوند سو، د وخت پاچا (شاه جهان جهانګیر) دوه واري دی په ترازو کي له سپینو زرو سره وزن کړ (و یې تلی) څومره سپین زر چي به له ده سره په وزن کي برابر سول، هغه زر به یې ده ته ورکړل او دا هر ځل به دغه زر شپږ زره نغدي پیسې سولې. څوواري یې په داسي مېلمستیاوو نازولی و، چي د هغه په وجه به ده په نعمتونو کي ژوند کاوه، خپل درسونه به یې ویل او کتابونه به یې لیکل، ټول کتابونه یې د عالمانو له خوا مقبول او منظور سوي دي. یوازي د ده په هیواد (اوسنی هند) کي نه، بلکي په ځانګړي ډول د روم د علماوو له طرفه هم ډېر ستایل سوی دئ. تر دې چي رومیانو به د ده له کتابونو په زده کړې کي سیالۍ سره کولې.

نسب او قوم: عبدالحکیم د شیخ شمس الدین زوی د سیالکوټ له اوسېدونکو څخه و. له تاریخ پوهانو څخه هیچا د ده د قوم په اړه تفصیلي بحث نه دئ کړی. په تاریخي سرچینو کي د ده د نیکه ګانو او کورنۍ په اړه هم شی نه موندل کېږي، مشهور تاریخ پوه محمد دین فوق په خپل کتاب (آفتاب پنجاب) کي یادونه کړې ده چي ده د تاریخ په ځینو کتابونو کي د ده د نیکه ګانو یادونه یا حالات نه دي پیداکړي، مګر صرف دا چي د ده د ښار له ځیني خلکو څخه یې دا اوریدلي دي چي د ده پلار د شیخ په تخلص باندي پېژندل کېدی او یو داسي کورنۍ ته د ده نسبت کېدی چي هغه مشهوره نه وه.

زده کړې:

شیخ خپل علمونه او هنرونه له لویو او پاکو مهارت لرونکو استادانو څخه لاس ته راوړي دي. مګر موږ د ده د علم د لاس ته راوړلو د مرحلو، استادانو او شیخانو په اړه تفصیلي معلومات نه کړل ترلاسه، ځکه چي د ده د ژوند شروع د پټو پردو تر شا او په تاریک (ناپېژانده) حالت کي تېر سوی. د ژوند د دغي مرحلې په اړه یې هیڅ معلومات نه لرو، البته دومره پوهېږو چي ده د شیخ ملاکمال الدین کشمیري تر لاسو لاندي شاګردي کړې ده او له هغه څخه یې علمي معلومات او دیني علمونه ترلاسه کړي دي. لکه: تفسیر، حدیث، فقه، منطق، کلام، فلسفه او داسي نور.

ښوونکي او شیخان: د تاریخ کتابونو د ده له استادانو څخه د شیخ ملاکمال الدین کشمیري پرته بل هیڅ استاد نه دئ یاد کړی. د دغه شیخ استاد یادونه د نزهة الخاطر لیکونکي داسي لیکلې:

شیخ د فضیلت خاوند علامه کمال الدین د موسی زوی حنفي کشمیري د زړه ورو علماوو څخه یو دئ. دی په ۹۷۱ هـ ق کال کي د کشمیر څخه سیالکوټ ته ولاړی او هلته یې درسونه شروع کړل، د عمر زیاته برخه یې خلکو ته په ګټه رسولو کي تېره کړله، تر داسي اندازې چي په ډېرو فنونو کي د ده تر نورو وړاندیوالی ښکاره سو. لکه: په منطق، حکمت، کلام او اصول فقه کي. ډېر هوښیار او د علم په حفظ او یادولو کي ډېر ګړندی و. د زده کوونکو له پاره ښه ښوونکی او د کتابونو په مطالعه کي غرق و. له ده څخه علامه عبدالحکیم د شمس الدین زوی سیالکوټي او شیخ احمد د عبدالاحد زوی عمري سرهندي او نورو زیاتو علماوو علم لاسته راوړی دئ. نوموړی شیخ په ۱۰۱۷ هـ ق کال په لاهور کي وفات او هلته ښخ سو.

په پورته بحث کي د ده د زوکړې، کورنۍ، قوم او دا چي له چا څخه یې علم لاسته راوړی و، بیان سول. ځیني خبري، لکه د ستایلو وړ خویونه یې له کومه لاسته راوړي دي، څنګه یې له کشمیر څخه سیالکوټ ته هجرت کړی او ولي یې هجرت کړی دئ. د دې په اړه علامه لکنوي صاحب څه نه دي لیکلي او دا سوالونه به همداسي جوابونو ته انتظار کوي. البته محمد الدین فوق د دغه هجرت وجه لیکلې او ویلي یې دي: شیخ کمال الدین د کشمیر هغه والي ته پر یو کار غوسه وکړه، چي د اکبر پاچا له طرفه ټاکل سوی و، کشمیر یې پر ښناوه، سیالکوټ ته ولاړی او هلته د ده د کورنۍ او ښار ځینو خلکو ښه راغلاست ورته وواېه.

په دائرة المعارف الاسلامیه کي د یوې مقالې لیکونکی د شیخ کمال الدین په اړه وایي، دی په علماوو عاملینو کي ډېر معلومداره و، له دې سره – سره چي د دنیا څخه په بې شوقۍ او د الله جل جلاله څخه په بېره کي هم مشهور و.

علامه فوق ویلي: دی د مشرق او مغرب په لوی عالم نومول سوی و او په دې نامه مشهور و چي انسانانو او پیرانانو ته علم ور زده کوي. همدارنګه یې هغه پېښې بیان کړي، چي د دې څرګندونه کوي چي پیرانانو به هم له ده څخه علم زده کاوه او درس به یې ورته وایه. لکه څنګه چي انسانانو علم ځني زده کاوه، دا لیري خبره نه ده، خو د ده ښه والی تر دې ډېر زیات دئ، چي له ده څخه پیرانانو علم زده کړی او یا د ده درس ته راغلي دي.

شاګردان:

علامه سیالکوټ د غوره علماوو له ډلې څخه و. ده په منطق، فلسفه او کلام کي ډېر اوږد لاس درلودی، د لاهور په یوه دولتي مدرسه کي ښوونکی وټاکل سو او هلته یې یو څه وخت تېر کړ، بیا له هغه ځایه د شاجهان پاچا په امر د اکبر آباد (اګره) یوې بلې دولتي مدرسې ته ولاړی. په بېلابېلو مدرسو کي له ده څخه ډېرو شاګردانو علم زده کړ. تر دغو مدرسو وروسته یې په خپل ټاټوبي سیالکوټ کي خپله شخصي مدرسه جوړه کړه، چي طالبان په ډېري تېزۍ سره هلته ورتلل، ده به درسونه ورته ویل او خپل په علم کي یې سخاوت کاوه، دوی یې له خپلو مهارتونو څخه برخمن کول، تر دې چي د هغوی د خوراک او د اوسېدلو د ځای بوج یې هم پر ځان اخیستی و. د ده تر لاس لاندي خورا ډېر شاګردان تېر سوي، خو زموږ په لاس کي یې شاګردانو په اړه مفصل بحث تر ډېره پوري نسته. د ده د ځینو شاګردانو یادونه په آفتاب پنجاب او مـاثر الکرام کتابونو کي سوې ده. همداسي د دائرة المعارف الاسلامیه کي د مقالې خاوند د ده د نورو شاګردانو نومونه هم لیکلي دي. پای

شعر او آدب

د طلوع زریني وړانګي

غزې ته

احمدخان "ارمان"

څو هیواده لیري هلته یو هیواد دی
په بمونو او مرمیو خوړین بر باد دی

دې هیواد کي شپه او ورځ ویني بهیږي
دا هیواد د جسدو اور کي سوځیږي

په کوڅو کي یې پراته خوار ماشومان دي
څوک ویشتلي څوک سوځلي شهیدان دي

پر چاونو پدل لوی – لوی تعمیرونه
پر چاونو پدل خپل مظلوم کورونه

که تور سري که سپین سري دي قتلیږي
که واړه دي که زلمي بس وژل کیږي

بس ګناه د دوی ده دا چي مظلومان دي
عبادت د خدای کوي مسلمانان دي

شپه او ورځ وي د کفارو تر برید لاندي
د مظلوم ولس یې زه او رمه ساندي

له سرو څخه یې جوړ سول دیوالونه
له شمار څخه یې ووتل قبرونه

اسرائیلو یې ښارونه نړولي
پر هر کور یې دي بمونه اورپدلي

خو بیا هم مبارزه کوي روان دي
دوی د لوی او ستر واحد ذات بندګان دي

توکل یې پر یوه رب دئ جنګیږي
له اسلام او آزادیه قربانیږي

هر سړی یې شهادت ته آماده دئ
هر غازي یې د توحید په زمزمه دئ

یوه ډله د حماس په کښې اوسیږي
له نامه یې هر یهود یزید لړزیږي

دي په وړاندي یې د کفر څو ملکونه
دوی بیا هم کوي په کلک عزم جنګونه

نه پروا د ټانک ساتي نه د توپونو
مخامخ ورځي ځوانان په تعرضونو

یهودان یې له سرونو دي نیولي
اسرائیل یې تر کورونو ځغلولي

دا هیواد د فلسطین په نوم یادیږي
پر غزه باندي یې سره مردک اوریږي

خدایه خلاص کړې فلسطین له ظالمانو!
ربه ته وکړې نصرت د مؤمنانو!

کړه آزاده نور غزه له کافرانو
کړه نسکوره دا کاسه د فرعونیانو

دا بیته کړې په لاس فتحه د غازیانو
ذوالجلاله مدد وکړې د خوارانو

زه "احمد" بیا خلافت عثماني غواړم
زه "احمد" پر سجده و تاته ژاړم

زما "احمد" له وسه نور څه پوره نه دي
دا بیتونه مي د زړه د خون رانجه دي

مسئول مدیر: بریالی "فیضي"
د تصحیح مسئول: حاجي عبدالله "ذاکري"
کمپوز او ډیزاین: نصیر احمد "صابر"
د مدیریت شمېره: ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزیع مدیریت شمېره: ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: علامه حبیبي واټ – اطلاعات او فرهنګ ریاست
د برېښنالیک پته: Afghan.tolo@yahoo.com

د ګډون کوونکو له پاره خبرتیا!

د طلوع افغان تاریخي خپرونه چي د هیواد په مطبوعاتي تاریخ کي ځانګړی ځای لري. که غواړئ چي د لمریز کال په آخرکي د طلوع افغان تاریخي ورځپاڼي یو بشپړ کلکسیون ولرئ، نو په طلوع افغان ورځپانه کي ګډون وکړئ.

د ګډون کلنۍ بیه ۵۰۰- پنځه سوه افغانۍ، زده کوونکو او محصلینو ته د تصدیق په وړاندي کولو سره نیمه بیه ټاکل سوې ده. اداره

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، د لیکنو په اصلاح کي د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هیله کېږي، چي دا سپېڅلي پاڼي بې ځایه و نه غورځوئ!

Founded in 1921 ISSue: 25 Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتیاوي

پروژه عملي کوي

پروژه: د افغانستان بانک د شمال زون، د تخار ولایت ځانګي او سهېل لوېدیځ زون له پاره د ترانسفرمرونه چمتو او نصب کول.

داوطلبۍ ته د بلني شمېره: DAB/1403/NCB/W03

د افغانستان بانک عمومي ریاست ټولو پر شرایطو برابر داوطلبانو ته بلنه ورکوي، څو (د افغانستان بانک د شمال زون، د تخار ولایت ځانګي او سهېل لوېدیځ زون له پاره د ترانسفرمرونو چمتو او نصب کول) پروژې داوطلبۍ په پروسه کي ګډون وکړي او د اړوندي شرطپاڼي چاپ سوی نقل د حافظې یا فلش ډیسک له لاري او یا د افغانستان بانک له ویب پاڼي www.dab.gov.af څخه ترلاسه کړي. خپل آفرونه په شرطپاڼه کي د ذکر سوو شرایطو او د تدارکاتو د قانون او طرزالعمل سره سم په سربنده توګه د اعلان د خپرېدو له نېټي څخه د سهار تر (10:30) بجو د ۱۴۰۳/۵/۳۱ نېټي پوري د کابل په ابن سینا واټ کي د افغانستان بانک مرکزي دفتر د تدارکاتو آمریت چي په درېیم پوړ کي موقعیت لري، وړاندي کړي. تر ټاکلي وخت وروسته او په آنلاین بڼه را رسېدلي آفرونه د منلو وړ نه دي.

د آفر تضمین: بانکي تضمین/نغدي پیسې مبلغ ۱۰۸۳۵۱/۰ یو سلو اته زره درې سوه یو پنځوس افغانۍ.

د آفر پرانیستلو غونډه د چهارشنبې په ورځ، د سهار پر (10:30) بجو د ۱۴۰۳/۵/۳۱ نېټه، د افغانستان بانک د تدارکاتو په عمومي آمریت کي دائرېږي.

یادونه: تر داوطلبۍ مخکي غونډه د شنبې په ورځ د سهار پر (10:30) بجو د ۱۴۰۳/۵/۲۰ نېټه، د افغانستان بانک د تدارکاتو په عمومي آمریت کي دائرېږي.

په اجاره یې ورکوي

د سرحدونو او قبایلو چارو ریاست اړوند، یو باب تعمیر چي په دوهمه ناحیه کي د سپوږمۍ صالون شاته موقعیت لري، په کرایه د اجارې په ډول د درو کلونو له پاره ورکول کېږي او مشخصات یې په لاندي ډول دي:

۱ – په یو منزل کي اعمار سوی دئ. ۲ – (۷) اووه اطاقونه لري. ۳ – (۴) څلور تشنابونه لري.

هر هغه څوک چي د یاد تعمیر په کرایه د اجارې په ډول غوښتونکي وي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۳ ل کال د زمري میاشتي د لسمي نېټې څخه بیا د روان کال د همدې میاشتي تر دېرشمي نېټې پوري د (یوویشتو) ورځو په موده کي د کندهار د مستوفیت ریاست، د دولتي املاکو لوی مدیریت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، تضمین نغداً اخیستل کېږي او یاده داوطلبي د ۱۴۰۳ ل کال د زمري میاشتي پر یو دېرشمه نېټه، د چهارشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې د تعین سوي هیئت په حضور کي، د دولتي املاکو په لوی مدیریت کي آفرونه خلاصېږي.

قرارداد کوي

د کندهار ولایت د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او د شکایتونو اورېدلو ریاست د ۱۴۰۳ مالي کال د لسو میاشتو د نقلیه وسایطو له پاره (۴۹۰۰۰) لېتره پټرول او (۵۵۰۰) لېتره ډېزل تېلو ته ضرورت لري، پر شرایطو برابر شرکتونه کولای سي، چي خپلي شرطپاڼي او آفر د اعلان د نشر د نېټې څخه بیا تر یوویشتو ورځو پوري د کندهار ولایت د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او د شکایتونو اورېدلو ریاست، د مالي او اداري چارو لوی مدیریت څخه ترلاسه کړي.

اعتبار نه لري

شرکت تجارتي آهن آلات اقبال لمیټېډ د (754–27) شمېرې جواز درلودونکی چي رئیس یې احسان محمد اقبال د فضل کرم زوی او مرستیال یې رحمت الله اقبال د حاجي فضل کرم زوی دئ، ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

په کرایه یې ورکوي

د کندهار پوهنتون ریاست اړوند درملتون، چي طب پوهنځي (کدري) روغتون په داخل کي موقعیت لري. یاد درملتون په کرایه د اجارې په ډول، د درو کلونو له پاره په قرارداد ورکوي.

هر هغه څوک چي په خپل نامه جواز، د فارمسي اسناد او د عامي روغتیا ریاست اداري له خوا تائید ولري او پر شرایطو برابر وي. یاد اشخاص چي نوموړی درملتون په کرایه د اجارې په ډول غوښتونکي وي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۳ ل کال د زمري میاشتي د پنځلسمي نېټې څخه بیا د روان کال د وږي میاشتي تر څلورمي نېټې د (۲۱) ورځو په موده کي د کندهار مستوفیت ریاست، د دولتي املاکو لوی مدیریت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، تضمین نغداً اخیستل کېږي او یاده داوطلبي د روان کال د وږي میاشتي پر پنځمه نېټه، د یکشنبې په ورځ د سهار پر لس بجې، د تعین سوي هیئت په حضور کي، د دولتي املاکو په لوی مدیریت کي تر سره کېږي.

په لیلام یې ورکوي

د کندهار ولایت د احصائیې او معلوماتو ریاست غواړي، چي د خپل ریاست اړوند، ۱۳ قلمه داغمه اجناس چي د ریاست الوزرا عالي مقام څخه یې د لیلام حکم هم اخیستل سوی او د لیلام پروسه یې هم تکمیل سوې ده. ذکر سوي اجناس د پنجشنبې په ورځ چي د ۱۴۰۳ مالي کال د زمري میاشتي د اتلسمي نېټې سره برابره ده، لیلام کړي.

---

(۱) مخ پاته: **دروغتیایي خدمتونو په ...**

ځالو جوړېدلو، د جوړو سوو روغتیایي ځالو د خدمتونو د پراخوالي او د مور او ماشوم له پاره د ځانګړو روغتیایي خدمتونو په اړه هم خبري سوي دي.

مولوي نور جلال جلالي، د یاد سازمان له لوري د جوړو سوو مرکزونو او روغتیایي ځالو په خاطر مننه کړې او په راتلونکي کي یې د نوو روغتیایي ځالو د جوړېدو پر مهال، د معیاري او نوو نقشو عملي کولو غوښتنه کړې ده.

د عامي روغتیا وزارت سرپرست د هیواد د لیرو پرتو سیمو اوسېدونکو ته د روغتیایي خدمتونو وړاندي کول؛ د دې وزارت لومړیتوب یاد کړی او ډاډ یې ورکړی چي د ټولو سپینو او لورو پرتو سیمو اوسېدونکو ته به روغتیایي خدمتونه ورسول سي.

(۱) مخ پاته: **نیول سوي آثار ...**

قیمتي خاوره پاکستان ته د قاچاق پر مهال نیولي وه.

د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست اړوند، د هنر او فرهنګ آمر عبدالشکور څپاند د سه شنبې په ورځ باختر آژانس ته ویلي، مسئولینو تر یو لړ پلټنو او تحقیقاتو وروسته، یاد نیول سوي آثار د کندهار اطلاعات او فرهنګ ریاست اړوند میوزیم ته وسپارل، چي وروسته به یې د مسلکي پلاوي لرغونپوهانو له لوري د پېژندني، پاک کارۍ، ترمیم او ثبت چاري تر سره سي.

(۱) مخ پاته: **د سلام مخابراتي شبکې ...**

مختلفو سیمو کي د ټیلیفوني ږغونو او انټرنیټ د کیفیت په موخه ټیسټونه کوي، چي وروسته به دا پروسه سپین بولدک، میوند او پنجوایي ولسوالیو ته هم وغځوي.

(۱) مخ پاته: **هره ورځ په لسونو ...**

دوشنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ویلي، د ښاروالۍ د ۱۵ ناحیو د تنظیف کارکوونکو د یوې اوونۍ را په دې خوا، له ښاره د کثافاتو راټولولو او انتقالولو په هدف حشر پیل کړی، چي هره ورځ په لسونو موټرونه کثافات د ښار له ناحیو ایستل کېږي.

د هغه په قول، د دې حشر په تر سره کېدو سره به د ښار ټولي ناحیې په مکمل ډول د کثافاتو څخه پاکي سي.

عاصم له ښاریانو وغوښتل، چي په یاد حشر کي ګډون وکړي او د ښار په ښکلا کي خپل مسئولیت ادا کړي.

(۱) مخ پاته: **له ملالۍ لوړو زده کړو ...**

به په یادو پوهنځیو کي خپلي زده کړي کوي. یاد ځوانان ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې ته د ځوانانو چارو آمریت له خوا ورمعرفي کېږي.

د یادولو وړ ده، چي تېره ورځ هم اطلاعات او فرهنګ ریاست د میرویس نیکه لوړو زده کړو مؤسسې سره په حقوقو، اقتصاد، سیاسي او نړۍ والو اړیکو کي په ۷۵ سلنه تخفیف سره یو تفاهم لیک لاسلیک کړی و.

(۱) مخ پاته: **په عمومي زندان کي....**

په زندان کي د پاکو اوبو مشکل په بشپړ ډول حل سوی، چي اوس به بندیان د څښاک له پاره ۲۴ ساعته پاکي او یخي اوبه ولري او زیاته یې کړه، یاد ماشینونه د یو تن هیوادوال له خوا زندان ته ورکړل سول.

(۱) مخ پاته: **غربي رسنۍ ولي د...**

اوس دا پوښتنه چي ولي غربي رسنۍ د اسرائیلو پر جرمونو چوپه خوله او د افغانستان کوچنۍ – کوچنۍ داخلي مسئلې یې تر بحث لاندي نیولي دي.

داسي جوابولای سو چي د دې مزدورو رسنیو دنده یوازي د کفارو جرمونه پټ ساتل، د رښتیني مسلمانانو بدنامول او د اسلامي نظامونو پر خلاف، د خلکو را پارول دي، ځکه خو دوی په خبرونو کي د فلسطین حماس ډله او اسلامي امارت په دې ټکو یادوي: (حماس چي د امریکا او اروپایي اتحادیې له خوا په یو ترهګر سازمان پېژندل سوی...)

طالبانو حکومت (چي تر اوسه هیڅ یو هیواد په رسمیت نه دئ پېژندلی...)

یادونه: د صهیونیستي رژیم له خوا د پورته تر سره سوو جرمونو معلومات له باوري عربي رسنیو څخه ترلاسه سوي دي.

په کرایه یې ورکوي

د کندهار ګمرک ریاست اړوند:

د سپین بولدک ولسوالۍ اړوند، د ګمرک آمریت په داخل کي، شپږ بابه دفتر کانټینرونه موقعیت لري، چي په لاندي ډول دي:

۱ – یو باب دفتر کانټینر. ۲ – یو باب دفتر کانټینر. ۳ – یو باب دفتر کانټینر. ۴ – یو باب دفتر کانټینر. ۵ – یو باب دفتر کانټینر. ۶ – یو باب دفتر کانټینر.

ذکر سوي شپږ بابه دفتري کانټینرونه په کرایه د اجارې په ډول په قرارداد د درو کلونو له پاره ورکول کېږي. هر هغه څوک چي یاد کانټینرونه په کرایه غوښتونکي وي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۳ ل کال د زمري میاشتي د پنځلسمي نېټې څخه بیا د روان کال د وږي میاشتي د (یوویشتو) ورځو په موده کي د مستوفیت ریاست، د دولتي املاکو لوی مدیریت ته وسپاري او یاده داوطلبي د همدې کال د وږي میاشتي پر پنځمه نېټه د دوشنبې په ورځ د سهار پر لس بجې د تعین سوي هیئت په حضور کي د دولتي املاکو په لوی مدیریت کي تر سره کېږي. شرطپاڼه کتلای سي او تضمین نغداً اخیستل کېږي.

قرارداد کوي

د کندهار ولایت د سرحدونو او قبایلو چارو ریاست اړوند، د سپین بولدک ولسوالۍ غازي عبدالله خان عالي لېسه کي د لیلیه شاګردانو د خوراکي موادو د ګرمي اعاشې ځیني اجناس د اشپزخانې د خریدارۍ له پاره په قرارداد ورکړي. ټولو هغو لوجستیکي شرکتونو ته چي پر معیار او شرایطو برابر وي او غواړي د یاد قرارداد په داوطلبي کي ګډون وکړي، خبر ورکول کېږي، چي د قرارداد شرطنامه، د اعلان د نشر څخه بیا تر (۱۶) کاري ورځو پوري هره ورځ د سهار د اتو بجو څخه بیا تر دوو نیمو بجو پوري د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو د ریاست د مالي او حسابي لوی مدیریت څخه ترلاسه کړي.

ټولنیزي رسنۍ

Mohammad omar afghan:

زمونږ او ستاسو د ټولني یو تریخ حقیقت! که یو پلار خپله لور په لوړ ولور ورکړي، افتخار کوي، که یو څوک په لوړ ولور اینګور (مېرور) وکړي، افتخار کوي؛ خو! که څوک په شرعي لار مخته ولاړ سي؛ پر خور او لور پیسې وا نه خلي، د ټولني خلک ورته بېلابېل الفاظ کاروي. څوک وايي: عیب یې درلودی. څوک وايي: پرې بوج وه او ډېر خو یې دا خبره کوي چي د غوا په نرخ یې ورکړه. آیا تاسو وواياست! مونږ ظالمان یو او که نه؟

Shamsullah Duranai:

لوبې په ماشومانو کي هوښیارتیا، فکر، اراده او بېلابېل استعدادونه روزي او د هغوی د روح د خوشحاله کېدو سبب ګرځي.

ډاکټر مصطفی "نیازی":

خپل ځان د باز په شان جوړ کړه، کله چي د مځکي لوري ته را په کښته کېدو سي، نو ټول مرغان په تېښته سي.

ډاکټر صفت الله "صفت":

خالي جېب یا مفلسي دي په دښمني اخته کوي.

خالي جېب دي له سیالۍ اچوي.

خالي جېب دي د خپلوۍ او قرابت څخه اچوي.

خالي جېب دي د کم اصلو خلکو احتیاج کوي.

خالي جېب دي په بانډارونو کي د خلکو تمسخر سبب کوي.

خالي جېب ژوندي مړي در څخه جوړوي.

الله تعالی مه هېروئ، که الله هیر کړئ، د هري بلا به در ته مخ وي!

صدیق الله "افغان":

د کندهار ښار د جادې په ګلدان کي هره ورځ د دره خط په نامه یوه ډېره بده ننداره وړاندي کېږي، یو ځای نه، بلکي څو ځایه دا کار دوام لري او ډېر سپک چلند نمایش ته وړاندي کېږي.

دې ننداري ته سوونه ښه او بد کسان، کوچنیان راټول سوي، ځیني یې آن د مکتب او مدرسې شاګردان هم وي.

ډېر کله دا ځوانان په وهلو کي تر جنګ ورسېږي، په چړو او چاقوګانو یې سره وهلي وي، بیا نو ډلي او ډلبازي وي، پایلوچۍ وي.

امنیتي مسئولین دي د دې کار په ټینګه مخنیوی وکړي، دا بې معنی فرهنګ دئ، پراختیا یې زمونږ ټولني ته له بدنامۍ پرته، بل څه نه راوړي.

بدۍ او کرکي ته د کمپاین مخه نیول په کار ده.